# كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله ملا له ركوع څخه پورته كړه نو - دا دعا به يې وويله: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ

له ابن ابي اوفی رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله ملا له ركوع څخه پورته كړه نو - دا دعا به يې وويله: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ». الله د هغه چا - وينا - واورېده چې د هغه ثنا يې وويله، اې الله زمونږه ربه ستا لره ستاينه ده، د آسمانونو د ډكوالي او د ځمكې د ډكوالي او د هغه څه د ډكوالي په «اندازه چې له دوی نه وروسته دي.

[صحيح] [مسلم روايت كړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې كله په لمانځه كې خپله ملا له ركوع څخه راپورته كړه نو "سمع الله لِمَن حمده"، به يې ويېل، يعنې چا چې د الله تعالى ستاينه وكړه، الله تعالى يې دعا قبوله كړه او د هغه ستاينه يې ومنله، بيا پدې وينا سره د الله تعالى ثنا بيانوي : اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ "، يعنې اې الله تا لره ستاينه ده، د آسمانونو او ځمكې د ډكوالي په اندازه او هغه څه چې لدې څخه وروسته دي، داسې ستاينه چې آسمانونه او ځمكې ډكوي او څه يې چې تر منځه دي، او هغه څه ډكوي چې الله يې وغواړي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee